ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JALT
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL



# Political Romanticism in the Poetry of Rahmat Shah Sail
## د رحمت شاه سائل په شاعرۍ کښې سیاسي رومانیت

**Mr. Masood Shah,**
M. Phil Scholar, Pashto Department, Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.
**Dr. Shukria Qadir,** Assistant Professor, Pashto Department, Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.

**Abstract**:
A human being lives in a society and establishes certain principles for managing their affairs, which is referred to as politics. These affairs involve fulfilling human needs collectively through mutual exchange. Whether it is a household, a neighborhood, a forest, a mountain, a country, or the relations between nations of the world, all are governed through politics. Rahmat Shah Sail has also incorporated pure political themes in his poetry. However, he has intertwined these political themes in such a folkloric and romantic essence that they take on the color of symbolism. In this research paper, a critical analysis of the political romanticism in the poetry of Rahmat Shah Sail has been conducted.
**Keywords:** Human being, society, politics, folklore, romanticism.

رحمت شاه سائل د ملاکنډ ضلعې د درګۍ کلي نه نمر خاته طرف ته څلور کلو میټر لرې په ورتېر کلي کښې په نورلس سوه او پنځوست کښې پېدا شوے دے۔ چې تعلق ئې د پښتنو د یوې مشهورې قبیلې اتمانخېلو سره دے۔ تر څلورم جماعت پورې ئې په رسمي توګه ذدکړې کړې دي خو د بعضې حالاتو په وجه ئې دغه ذده کړې سر ته اونۀ رسولې۔[1]خو بیا هم د رسمي تعلیم د پرېښودو نه باوجود ئې د مختلفو کتابونو، رسالو او اخبارونو مطالعه جاري ساتله او د خپلې مطالعې او ادبي پوهې په سبب د مختلفو اخبارونو وخت په وخت مدیر اوټاکلے شو۔ د لیکوال او پښتون رسالې مدیر هم پاتې شوے دے۔او دې نه علاوه د دوو ادبي مجلو پښتون او لیکوال چیف ایډیټر هم پاتې شوے دے۔ داسې د شاعرۍ نه علاوه ئې په نثر کښې په مختلفو موضوعاتو تقریباً د دریویشتو نه سېوا کتابونه لیکلي دي۔

ادب په عمومي توګه او بیا شاعري په خصوصي توګه د انساني جزباتو او احساساتو د اظهار یوه نېغ په نېغه ذریعه ده ۔ چې پکښې شاعر د خپل چاپېرچل نه خیالات راخلي او په خپله مخصوصه لهجه کښې ئې لوستونکیو یا اورېدونکیو ته وړاندې کوي۔ چې په دې حقله سلیم راز صېب لیکي!

> "ادب چونکې د سماجي شعور د اظهار یوه وسیله او ذریعه ده نو ځکه د سماجي شعور د اظهار په حواله د خپل سماجي وجود عکاسي او نمائندګي کوي۔ خو سماجي شعور د وخت او حالاتو سره د بدلېدو خصلت او خصوصیات لري ۔ نو پخپله هم بدلېږي نوے کېږي هم او ارتقاء هم کوي"[2]

انسان چې کله په یوه ټولنه کښې ژوند تېروي نو هغه د خپلو معاملاتو دپاره یو خاص قسم اصول ټاکي چې دغه اوصولو ته مونږ د سیاست نوم ورکولے شو۔

رحمت شاه سائل هم په خپله شاعرۍ کښې د ترقي پسندانه سوش سره سره د ژوند په مختلفو اړخونو قلم پورته کړے دے چې پکښې د هغه سیاسي سوچ او سیاسي فهم هم ډېر اهمیت لري ۔ داسې د غزل سره سره ئې په نظمونو کښې هم د دغه سوچ عکاسي کړې ده ۔ د انساني ژوند تقاضا دا ده چې دے چرې هم په زمکه یواځې

ژوند نۀ شي تېرولے ـ دے به د خپلو ضرورتونو دپاره په يو بل باندې اډانه لري او يو بل ته به ئې ضرورت راپېښېږي ـ او دغه ضرورت دے په شراکت باندې مجبوره کوي او داسې دغه شراکت سياست ته لار جوړوي ـ د يوې صحتمندې ټولنې د بقاء دپاره د اصل سياست د اهميت نه څوک هم انکار نه شي کولے ـ

رحمت شاه سائل د خپلې شاعرۍ د نورو اړخونو سره سره يو پوخ سياسي شعور لري او هغه دغه سياسي عمل دپاره د يو سياسو او ګوند اوقامي پارټۍ عوامي نشنل پارټۍ سره تعلق لري ـ د وروکوالي نه ئې د باچاخان او عبدولي خان سره نزدې ژوند تېر کړے دے او هم د دغه پارټۍ نه په مختلفو وختونو کښې پارليمان تي تلے دے ـ دې کښې هېڅ شک نشته چې سائل د خپلې شاعرۍ سره سره په عملي توګه هم يو قام پرسته او نظرياتي انسان دے ـ

د سائل د شعر دغه سياسي رنګ هغوي خپله شاعرۍ کښې دومره په ښکلي انداز ځائے کړے دے چې هغې د علامتونو رنګ خپل کړے دے ـ په خپل يو نظم "کابل" منظرکشي ئې ډېر په رومانوي انداز کښې کړې ده ـ لکه چې وائي

”ما به کابل کابل کوو نن مې کابل وليدو
هغه کابل چې مې د خوب چې مې د خياله جوړ دے
د نرګسي جانان د زرکو سترګو پۀ شان
چې هر تصوير ئې د فطرت د خدوخاله جوړ دے
لکه د مينې د اسمان د ټال اووۀ رنګونه
د کوه قاف د ښاپېرو د تصور مملکت
پياز دې وي خېر دے خو پۀ نياز دې وي خوږو ملګرو
کنډر کنډر دې وي خو وې د پښتون کابل
چې د وطن ايمان پۀ هر تندي کښې اوموسېږي
کنډر کنډر دې وي خو وي د ژوندون کابل
کابل منم چې د باردو بوئي به هم وي پکښې
خو د ګلونو خوشبوئي ترې چرته تلي نۀ دي
کابل منم چې ګټې لُوټې شو تالا ولا شو
خو لا ئې غرونه د خپل ځايه خوزېدلي نۀ دي“[3]

پۀ مذکوره نظم کښې کۀ مونږه دغه مصرعو ته زير شو نو يو خوا کۀ سايل د کابل د عاشق غوندې روماني طرز لري نو بلخوا ئې پۀ علامتونو کښې د پوخ سياسي نظر عکاسي ده - پۀ پښتونخوا کښې چې عوامي نېشنل ګوند د حکومت نه پس تعليمي اداري ډېرې زياتې شوې چې پۀ نتيجه کښې ئې باچاخان پوهنتون چارسده، باچاخان ميډيکل کالج مردان، ګجوخان ميډيکل کالج صوابۍ، صوابۍ پوهنتون، بونېر پوهنتون، سوات پوهنتون، بې نظر بټو پوهنتون شيرنګل کوهستان او دغسې عبدالولي خان پوهنتون مردان ئې جوړ کړل - سايل چې پۀ عبدالولي خان پوهنتون باندې کوم نظم ليکلے دے پۀ دې نظم کښې روماني علامتونه پۀ داسې انداز کښې ليکلي شوي دي چې بيخي سياسي رنګ لري لکه دا نظم !

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



”د عمر تږے یمه زړۀ به مې سېراب کړې کنه
زۀ خو یو ښاځکے یمه تۀ به مې دریاب کړې کنه

زۀ خو وابښۀ راټوکېدلے یم د ذات پۀ دشت کښې
تۀ به مې ګل کړې کنه ته ګلاب کړې کنه

چې خپله سوال پېدا کړم خپله ئې ځواب پېدا کړم
ما به پۀ داسې پوهه داسې لاجواب کړې کنه

شډل بډل یمه بلا شډل بډل غریب یم
ما به د علم او فن پۀ زمکه کښې نواب کړې کنه“[4]

د پښتنو د سیاسي لیډران چې کله د ووټ په طاقت اسلام اباد ته ورسي نو بیا د دوي نه د خپل خلق او خپله خاوره هېره وي او اکثر ډېر د اسلام اباد د اسمبلۍ ممبران خرڅ شي - پۀ دا حواله سایل چې پۀ ډېر سیاسي انداز کښې رومانیت خپلو او وائي چې !

”ما درته وې اسلام اباد ته مه ځه
خدائے خبر چا کړې د نظره یاره“[5]

د ګران اسلام اباد بادونه مونږ له ښۀ رانغلۀ
زمونږه همه واړه خېلخانه ئې کړه بیماره“[6]

د سائل "ماشوم" نومې نظم د سیاسي رومانیت یوه ښکلې نمونه ده، په دې نظم کښې یو اړخ ته د ماشوم د ازاد فطرت عکاسي شوې ده او دا ماشوم د دې خپل چاپېرچل او ماحول وارث ګرځوي نو بل اړخ ته د ټولنې د واکدارانو د لوټ مار او ظلم له کبله دا ټول هر څۀ د دۀ نه تروړلے شوي دي ـ او په اخره کښې دا ماشوم د محرومۍ ښکار پاتې شوے دے

”تۀ چې پېدا شوې خدائے دا شته دنیا در وسپارله
تاله ئې ستا د جهان واړه نعمتونه درکړل

د انساني بقا د کر د زمکې نر تېغه
خدائے درله یو لاس کښې سپرلے بل کښې ګلونه درکړل

د دې انسان د دې ټولنې د تهذیب وارثه
خدائے دا همه غرونه سیندونه ګلشنونه درکړل

تۀ د ژوندون علامت تۀ د محبت تسلسل
خدائے ستا وجود له څۀ رازونه کمالونه درکړل

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



خو چې ستا سترګې غړېدې ستا پهٔ درکړې دنیا
د څو غټانو راج و ستا نه ئې وه وړې دنیا

تاته د لوي خدائے د درکړي هر یو ګل غېږه کښې
ستا د شبنم وجود د پاره یو سحر هم نهٔ و“[7]

پهٔ پولټیکل رومانټسیز کښې سایل ”ریچل کوري“ نظم پهٔ ډېر بهترین انداز سره لیکلے دے - دا نظم کهٔ یو خوا د دغه جینۍ بهادري او شجاعت څرګندوي نو بلخوا د تمامې د دنیا د انسانیت کونکو باند یو طنز هم دے - دې نظم په حقله سایل وائي چې :

”کله چې په کال ۲۰۰۳ کښې امریکې په عراق حمله وکړه عین پهٔ دغه وخت هم د امریکې یوې معصومې جینۍ ریجل کوري د خپل صېحوني بربریت په ضد یوه قیصه لیکله - د فلسطینیانو د کورونو د ورانولو د پالیسۍ خلاف د بلډوزرو مخې ته لکه د فولادو د دیوال ولاړې جینۍ مرګ له غاړه ورکړه -خو دا ئې ثابته کړه چې د امن پهٔ ریښتوني غوښتونکو کښې د مذهب کوم فرق ضروي نهٔ دے -“[8]

پهٔ نظم کښې سایل د لوړ تخیل نه کار اخستے دے د معصومې تصویر ئې پهٔ داسې روماني لفظونو کړے چې دغه ترخه واقعه کښې ئې اول معصومه لکه د فرښتې ښکلې او پاکه څرګنده کړې ده او بیا ئې د هغوي قیصه پهٔ علامتي توګه باندې کړې ده.
سایل چې خپل ځان یادوي او نو هم خپل ځان د یو سیاسي وګړي پهٔ توګه متعارف کوي چې په کښې سیاسي روماني رنګ پکښې غالب لیدے شي - لکه وائي چې !

”کتې لُوتې د اودهٔ پښتانهٔ کور شوم
د غرور د منارې سر وم نسکور شوم

لور پهٔ لور او کور پهٔ کور خور شوم سایله
د وطن د سوي بڼ د مرغۍ شور شوم“[9]

منیر احمد بټ د سیاسي رومانیت پېژندګلو په دې ډول کوي چې !

''اگر شعر میں وطن اور سیاسی صورت حال بلاواسطہ بیان کیا جائے تو شعر مخظ ایک صحافتی بیان رہ جاتی ہے ۔ اس لیے شعر میں حالات کو رومان کی طرح جذبات اور شدید تخیل میں بیان کرنا ہنر کاری ہوگی ۔ اور اُس کے لیے ضروری ہے کہ شاعر شاعری کی فن کے ساتھ ساتھ پولیٹکل انجنئرڈ بھی ہو۔''[10]

د یو هنرمند شاعر په حېث سایل د شعر د فن د شعر د نزاکت نهٔ خبر دے او خو په شاعرۍ کښي د وطن حالات په داسې انداز سندره کوي چې د دواړو مشابهت د سیاسي رومانیت عکاسي کوي - داسې علامتي انداز خپلوي چې هم د وطن د حالاتو ترجماني پکښې کېږي او هم د سایل د خپل داخلي کرب او د مینې ترجمانې پکښې کېږي -

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



"تهٔ د خپل وطن پهٔ خپل پهٔ شته کلي کښې ورک شوې
پهٔ خپل کلي کښې ورک يم هم پردے يم

تهٔ د خپلو اوښکو ورے ئې سايله
زهٔ د خپلې مرى نښتے اسويلے يم"[11]

غني خان چې د پښتو د جديد شاعرۍ او بيا د رومانی شاعرۍ ستره نامه ده - سايل چې پهٔ غني خان باندې کوم نظم ليکلے دے پهٔ دغه نظم کښې هم سايل د سياسي رومانيت نه کار اخستے دے - کهٔ د غني خان شخصيت يادوي او کهٔ د ځان شخصيت يادوي پهٔ داسې هنر ئې يادوي چې پهٔ شعر کښې هم رومانس څرګند دے او هم سياسي حالاتو سره سمون خوري - لکه د دې نظم دا شعرونه چې !

"تا د وطن هر زخم پهٔ زړهٔ پورې نيولے دے
زهٔ د وطن هر ارمان بې اوره سوزلے يم
تا د وطن اوښکه تل ترانه کړې ده
ما د خپل وطن هره سلګۍ سندره کړې ده
تا د پښتنو هره ادا جانانه کړې ده
ما د پښتنو هر ادا دلبره کړې ده
تهٔ د ترانې د زړهٔ درزا زهٔ د سندرې شور
دواړه د پښتون ستار پهٔ تار کښې غږېدلي يو"[12]

کهٔ د سايل د نظم سره سره د هغوي د غزل د شعرونو جاج واخستې شي نو هم پکې دغه قسمه سياسي رومانی رنګونه بلها پراتهٔ دي چې د سايل د غوره فکر ترجماني کوي -

پهٔ ژوندو ژيزونو کښې تر ټولو وړومبے جبلي خواهش ځان ساتنه ده او د نسل بقا ده - پهٔ فطري توګه باندې کهٔ مونږه وګورو نو زنده سر د خپلې بقا له پاره هڅې کوي -  دغه ټولې هلې ځلې د زېږون سره سمې شروع شي او تر مرګه پورې په مزاحمتي شکل کښې جاري وي -

رومانيت انسان ته شخصي ازادۍ ورکولو هڅه کوي او پهٔ بدل کښې ورته د فرسوده رواياتو، فرسوه قوانينو، فرسوده مذهبي افکارو نه د ځان ژغورلو امر کوي - پهٔ دې حواله ډاکټر ايم اے حاقان وائي چې!

"انسان کو ہر صورت پر اپنے ازادی کے لیے لڑنے کا حق حاصل ہے ۔ اُس ازادی
اُس کی ضمیر  کی اواز ہونا چاہئے ۔ فرانسوی ادب نے انسان کے جذبات کو عقل پر
اسلیے زور دیا تا کہ فطرت کی رو سے جذبات ہی انسان کی ترجمانی کرسکے"[13]

انقلابي شاعري هم د سياسي رومانيت يوه اهمه حصه وي، سائل په نظم کښي هم پهٔ روايتي توګه د خپل وطن د ځنې غلطو رسومونو غندنه په باغيانه انداز کړې ده او دغه باغيانه رنګ د هغهٔ د رومان نه شوخ دے - سايل سندره د ژوند د بغاوت علامت ګڼي - ځکه وائي چې پهٔ دغه ويرژن ماحول کښې سندره کول د وير پهٔ ضد باغيانه قدم پورته کول دي -دغه انداز ئې چې يو قسم له انقلابي او باغيانه رنګ خپلوي لکه چې وائي!

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



”ظالم ته که ډېر ناز دے په دارونو په دامونو
په ظلم په وحشت په زولنو په زنځيرونو

زمونږ د ژوند پرستو لېونو فېصله دا ده
يا سر د تېغه تېر او يا معراج د ارمانونو“[14]

انقلاب چې عمل ته راشي نو باغيان پېدا کوي - سايل هم په دې نظام طنز او کوي او د دې نظام غندنه کوي - خو سايل شاعر دے او د قام شاعر دے هغه د دغه ظلمونو قيصې سندره کول غواړي دغه سندرې باغيانو ته رسول غواړي او اولس پرې بېدارول غواړي - هر کله چې انقلاب فرانس راتلو نو هم دغسې حالاتو اولس مجبوره کړي وو -

سايل لاندې او کمزورې طبقې سره تعلق لري او هم دانشور دے - دغه حالاتو کښې رالوېدل د يو دانشور د پاره د باغي ګرځېدو سبب ګرځي - سايل په خپل يو نظم کښې وائي چې !

”د زړۀ درزا نه به نغمې د انقلاب جوړوم
ستا د ظلمونو د قيصو نه کتاب جوړوم

حلالوې چې په پټه خلۀ په پښه چاړۀ
دغه نظام ته به د خپل ځانه قصاب جوړوم“[15]

د انقلاب فرانس او بيا د هغې نه د رومانيت د رازېږېدو وجه دا وه چې مذهبي پېشوه پوپ د خپل اولس استحال د مذهب په زور کړے دے- ډاکټر اخترعلي په دې حقله ليکي چې!

”د فرانس اولس د پوپ او چرچ د احکاماتو څخه دومره وډارولي شول چې
هغوي د ژوند نه لاس پۀ سر شول - عملي ژوند کښې د هسمه پرمختګ نه پاتي
شول - زميندار کۀ غله ګټله نو لويه برخه ئې د خدائے پۀ نامه پوپ ته ورکوله،
مزدور خپله مزدوري ورکوله - هم دغه چل وشو چې دغه انقلاب د پوپ د فکر او
عمل نفي وکړه“[16]

رحمت شاه سايل هم چې پۀ تولنه کښې ورته خپل روايتي ملا کومې کربښې راښکلې دي د هغې نه د بغاوت اعلان کوي او وائي چې زۀ ژوند کول غواړم، د خپل اولس مسيحا جوړېدل غواړم او تۀ کۀ د جنت پۀ نوم يا د حُورې پۀ نوم ماته طمعه راکوې نو عبس به وي - لکه وائي چې !

”تاته د مرګ پۀ خبرو کښې ثواب ښۀ دے
ماته د ژوند پۀ خبرو کښې عذاب ښه دے

مُلا تۀ حُورې زوتوه عېش کوه عېش چنوه
ماته زما د زړۀ پۀ درد پوهه رباب ښۀ دے“[17]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



سایل ریښتونے فنکار دے خپلو جذباتو او احساساتو ته د اظهار ژبه ورکول ئې پۀ روماني انداز کښې کړې ده - هغه وائي هغه وائي چې په دې نظام کښې تور ته تور او سپین ته سپین وئېل کفر ګڼلے کېږي خو ګناهګار په دې یم چې زما نه دا کار نشي کېدے لکه چې وائي !

”دلتــــه کښــــې رواج دے تــــور ســــپین او ســــپین تــــه تــــور وئیــــل
زۀ ورتــــه ائــــین نیســــم پــــۀ دغــــه ګنــــاه ګــــار یمــــه“[18]

رومانیت کښې فطرت پسندي یا فطرت ته واپس رجوع یوه تهذیبي او کلتوري جز دے چې ډېر مهم ګڼلے شي - د رومانیانو پۀ خیال انسان چې څومره هم د فطرت نه لرې ځي هومره به د هغې رد عمل سخت راځي - د انسان اصل فطرت کښې بدلون هم دا مصنوعیت پېدا کوي، د څۀ په وجه چې پۀ انسان کښې بد دیانتي، حرص، دروغ، حسد او بغض پېدا کېږي - دغه هم دې توکو باندې چې کله ټولنه پۀ مشترکه توګه باندې ککړه شي نو نظام ګډ وډ شي - پۀ دې حواله سلیم اختر لیکي چې !

”رومانی شاعروں نے حسن فطرت پر بھی کھل کر لکھا۔ انھوں نے حسین ، خوبصورت اور دلکش مناظر مثلاً پہاڑوں، صحراؤں، ریگستانوں، جنگلوں، سمندروں، دریاؤں، وادیوں اور چشموں وغیرہ کے حسن کی عکاسی کی ہے جن کی خوبصورتی سے سکون حاصل کیا جاتا ہے۔“[19]

هم دغسې فطرت نګاري یا فطرت ته رجوع چې پۀ انساني کردار کښې سادګۍ پېدا کوي، دا قسم ژوند د معصومیت او د جنګ او جدل نه پاک ژوند وي - پۀ فطرت نګارۍ کښې د یو عالمګیر سوچ د لاندې انسان کښې خاکساري کۀ پېدا کوي -

سایل چې د غرونو نښترونو د چینو د وطن شاعر دے - هغه چې کله هم پۀ شعر کښې غرُ پورته کړے دے نو هم دغه خپل کلیوال پاک او معصومه ژوند لـه ئې د فطرت عکاسي کوي- ډاکټر راج ولي شاه خټک د فطرت نګارۍ پۀ حواله باندې لیکي چې !

”رومانیت پۀ لنډو ټکو کښې فطرت ته د ستنېدو نوم دے - بنیادم مشین نۀ دے او نۀ عقلیت د بنیادم د جذباتو د تسکین پوره خاصه لري - د زړۀ دناي ځان تپ یوه دنیا ده - وائي چې دا رومانیت د جرمن آئیډیالزم پۀ صورت کښې لـه وخت نه موجود وۀ - خو وروستوپۀ فلسفیانه انداز کښې فروغ روسو ورکړو - او دغه تحریک وروستو پۀ دنیا خور شو - هر هغه بنده چې د انفرادي ازادۍ ، فکري ازادئ قائل دے رومانیت هغه ته اپیل کولے شي - د تکلفاتو د روایتونو د جمود ښکار ټولنې کښې رومانیت د یو انقلاب پۀ هېچ داخل شوے دے - دغه شان روماني تحریک د یورپ فلسفه ، ادب، فن، تعمیر او موسقۍ کښې انقلابي بدلون راوستے دے“[20]

د سایل په اکثرو نظمونو کښې د داسې الفاظو انتخاب کوي چې هغه په خپله د فطرت نګارۍ او رومانیت نمونه وي - دلته ئې د شعرونه راخلم لکه وائي !

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



”مونږه مئين مونږ استوګن د لاله زار د کلي
مونږ وينځو نه د تهمتونو د داغونو جامې

څه چې ترې راوږو ترنم ستا تبسم شوندو له
فطرت اغوستي د مرغو د اوازونو جامې

خلق مې ټول په تماشه دي يو ته نه راګوې
ما ستا په ښار کښې هم اغوستي دي د غرونو جامې

ته خو بس يو ځل خپل سايل ته پسرلے ووايه
چې درله اوس راوړي کنه د سرو ګلونو جامې“[21]

سايل د رومانيت ستر شاعر دے او چې کله سياست ته رجوع کوي نو هغې ته هم د رومانيت په لاره ورځي پورته بحث کښې چې د سايل د شاعرۍ نه چې څومره هم چاڼ وشو د هغې نه دا جوتېږي چې سايل په روماني نظمونو کښې د سياسي اړخ يوه ځانګړې عکاسي کړې ده

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



حوالي

[1]یاسمین وزیري، د رحمت شاه سائل د شعري محویاتوشننه، پښتو نړیواله مرکه افغانستان، ۲۰۱۶، مخ، ۲۰
[2]سلیم راز، تنقیدي کرښې، عظیم پبلشنګ هاؤس پېښور، ۱۹۹۹، مخ ۲۷
3 :رحمت شاه سایل، زۀ د خزان د پاڼې پاڼې سره ورژېدم، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۱۱, مخ ۲۹
4 : رحمت شاه سایل، غرمې لمبې لمبې، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۱۱، ۱۰۰
5 : رحمت شاه سایل، تاله تصویر پۀ ګلاب جوړ کړم کنه، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۱۳، مخ۲۵
6 : رحمت شاه سایل، د چینارونو نه لمبې ووتې، مخ ۶۷
7 : رحمت شاه سایل، د چینارونو نه لمبې ووتې, مخ ۲۷
8 : همدا کتاب، مخ ۷۹
9 : رحمت شاه سایل، درد چې د څړیکو څانګې وسپړلې، وحدت پرنټرز پېښور، ۱۹۹۶، مخ ۶
10 : منیر احمد بٹ، شاعری کی فن، تہذیب پبلیکیشن کراچی، ۲۰۰۷، ص ۲۳
11 : رحمت شاه سایل، درد چې د څړیکو څانګې وسپړلې، وحدت پرنټرز پېښور، ۱۹۹۶، مخ ۸
12 : همدا کتاب، مخ ۱۸
13 : ڈاکٹر ایم اے حاقان، تصور ازادي، سنگ میل، ۲۰۱۹، ص ۳۹
14 : رحمت شاه سایل، د ویر پۀ چم کنبې وار د نغمو دے، مخ ۴
15 : رحمت شاه سایل، د ویر پۀ چم کنبې وار د نغمو دے، مخ ۲۰
16 : ډاکټر اختر علي، اشرف مفتون او رومانیت، د پي ایچ ډي ناچاپه مقاله، پېښور پوهنتون، مخ ۲۱۹
17 : رحمت شاه سایل، د ویر پۀ چم کنبې وار د نغمو دے، مخ ۲۶
18 :همدغه کتاب، مخ ۵۰
19 : سلیم اختر، اردو میں رومانوی تحریکیں، فکشن ہاوس لاہور، ۲۰۱۳، ص ۱۶
20 : راج ولي شاه خټک، پښتو ادب او رومانیت، مشموله جرس، اعراف پرنټرز، ۲۰۱۱، مخ ۲۲۷
21 : رحمت شاه سایل، د چنارونو نه لمبې ووتې، مخ ۴۱